# Thematic and Artistic study of Majzoob's Ghazal

## د مجذوب د غزل موضوعاتي او فني مطالعه

Dr. Banaras Khan Khatak*
Dr. Asal Marjan**

**Abstract** :

Majzoob is one of the distinct type of poet in Pashto literature. In literary figure he owes great importance and authentication in ghazal. In this research paper the writer explored the thematic and artistic study of Majzoob's ghazal's. The writer also point out that Majzoob has great command over the art and language of Pashto literature.

مجذوب د شلمې صدۍ په هغو يو څو شاعرانو کښې شمېرلے شي کوم چې نۀ يوائې د جدا اسلوب څښتن دي بلکې په ربښتيا معنو کښې ئې پښتو شاعري د يوۀ نوي طرز، فکر او علمي قدرونو سره اشنا کړې ده ۔ د دۀ د نظم انګازې د پښتو په جديد ادب کښې د نيمې پېړۍ نه خورې دي۔ ولې د دۀ غزل ته تر اوسه پورې هغه پاملرنه نۀ ده شوې، کومه چې په کار ده۔ حقيقت دا دے چې څنګه دے په نظم کښې خپل ساري نۀ لري، هم دغه شان د دۀ د غزل ځانګړے رنګ هم د پښتو ادب په غزلزار کښې ښيخي جوت ښکاري۔

مجذوب په بنيادي توګه يو روماني شاعر دے او دۀ د ازل نه يو حسن پرست مزاج راوړے دے۔ دے که د حسن و عشق تصور وړاندې کوي او که د طبقاتي نظام د لرې برې نقشه راکاږي، په هر حال د دۀ په غزلونو کښې روماني رنګ څرګند ښکاري۔ دلته به دا خبره بې ځايه نۀ وي که مونږ دا ووايو چې رومانيت د مجذوب د شاعرۍ روح دے، ولې چې د رومانيت اجزاء د دۀ په غزلونو کښې خوارۀ وارۀ ليدۀ شي، نوے انداز، نوے تخيل، نوے فکر او نوے اسلوب د مجذوب د شاعرۍ هغه توکي دي چې دۀ ته په روماني شاعرانو

---

* Assistant Professor GPGC, Karak
** Assistant Professor/Director Bacha Khan Study Centre Bacha Khan University Charsada

کښې ځانګړتیا بخښي او اهمه خبره دا چې د ے د روماني شاعرانو غوندې هر څیز ته د یوې نوې زاوئې نه ګوري- په لاندینو شعرونو کښې ئې د غزل دغه نو ے رنګ د کتو وړ د ے :

چې فتنه خوره وره شوله ښکلا شوه
ارمانونه چې راجمع شول زړګے شو[1]

دا د هغـــو زلفـــو تصـــور وۀ مېـــږي نـــۀ وو
ماته چې لیدۀ شو تور قطار په بستره کښې[2]

په روماني شاعرۍ کښې د حسن و عشق مختلف کیفیتونه یو روحاني مسرت او سرور پېدا کوي- په دې بنیاد روماني شاعري د حسن و عشق د اظهار نه عبارت ګڼلے شي - حسن و عشق د ازل نه د یو بل سره لازم او ملزوم راغلي دي-له دې کبله د دوي اهمیت مسلم د ے- " حسن او عشق په هر وخت او هر ځا ے کښې په خلقو خپله سیکه منلې ده -که په فرهاد ئې غرونه سوري کړي دي نو قېس مجنون ئې د نجد په صحرا کښې په ګرمو شګو ځملولے د ے-"[3] مجذوب که هر څو د قېس او فرهاد غوندې په عملي توګه د خپل عشق څرګندونه نۀ ده کړې، ولې په عشق کښې مجذوب ضرور د ے ، ځکه ئې په خپلو غزلونو کښې د حسن و عشق ځنې کیفیتونه څۀ داسې په ساحرانه ژبه کښې بیان کړي دي چې د فکري غورځنګونو سره سره ئې په شعر کښې غنایي اهنګونه خپل د خپله راپېدا شوي دي او د دۀ قلبي واردات او جذبات لوستونکي ببخي خپل احساسات ګڼي لکه وائي:

پـــو هېږي پتنګـــان پـــه ســـوز و ســـاز د محبـــت
پـــه اور کښـــې ســـوزېدل خـــو ګډېـــدل نـــۀ ئـــې منـــل
مجذوب خـو دا وئیـل چې مینـه سـو ے د ے مسلسـل
خـو خپلـه پـه دا اور کښـې ئـې سـېزل نـۀ ئـې منـل[4]

مینـــه جـــدائي بـــې قـــراري طلـــب
وېش کښې راتـه دغـه توري پرېوتـل[5]

او په لاندینو شعرونو کښې چې مجذوب د خپل مئین زړۀ کوم کیفیت بیان کړ ے د ے هغه بې شکه د لوستو وړ د ے چې :

ستا پـه انتظـار چـې ډېـوه مـړه شـوه وار پـه وار
ښـــکاري د مئـــين د زړۀ اهونـــه پـــاتې شـــته
مړ ئې کړو مجذوب بيا ئې ژړل وربانـدې پـاس
مـــړه دي دنيـــا لـــه څـــو دودونـــه پـــاتې شـــته[6]

مجذوب د نظم په دنيا کښې ځان د يو فلسفي په رنګ کښې ښکاره کړے دے او هم دغه د فلسفې څرکونه د دۀ په غزلونو کښې هم ځاے په ځاے موندۀ شي ۔د رومانيت او د فلسفې امتزاج د دۀ غزلونو ته يو ابدي حسن وربخښلے دے ۔" د فلسفې بنيادي مقصد د کائنات او د انساني ژوند راز معلومول دي، فلسفه په دغه حقله ډېر کوټلي سوالات راپورته کوي ۔"[7]مجذوب په ځينو ځايونو کښې د فلسفې غوندې ډېر ساده ساده سوالونه راپورته کوي، ولې په حقيقت کښې دغو سوالونو ته ځوابونه لټول څۀ اسان کار نۀ دے لکه وائي:

وخت د سپرلي دے خو ګل ودوړېدو
دا حادثـــه هـــم څـــۀ خبرنـــه غـــواړي[8]

په تصوف کښې د وحدت الشهود د نظرئې ترمخه لکه څنګه چې د کائنات ټول شيان په خپل خپل نوم بللے کېږي او د انسان سوري ته انسان نۀ شي وئيلے، هم دغه رنګ مجذوب د ګل او د آب و ګِل د تعلق په بنياد دې خبرې ته داسې اشاره کوي:

ګـل خـو آب و ګِـل نـه زېږېـدلے دے
ګل ته آب و ګِل خو هېڅوک نۀ وائي[9]

د تصوف د فلسفې ترمخه د حسن مطلق ذات د کائنات په ذره ذره کښې خور وور موجود دے ۔مجذوب په لاندېني شعر کښې که يو خوا دغه فلسفه بيان کړې ده نو بل خوا ئې ورسره يو سوال هم رااوچت کړے دے چې:

هـــره ذره ســـتا د ســـنګار آئينـــه
زما لـه سترګو نـه پنهـان ولې ئې؟[10]

د مجذوب د غزل کمال دا دے چې دے خپل خيال په رنګارنګېردو کښې نۀ رانغاړي چې لوستونکي د تکلف سره مخ کړي بلکې دے د غزل دپاره ډېر ساده لفظونه،ترکيبونه،تشبيهات او استعارات څۀ په داسې ډول راوړي چې يو خوا ئې که غزل

ډېر ساده ښکاري نو بل پلو ئې د بيان انداز يو جادوئي کيفيت پېدا کوي ـ اسد قريشي په ځاے ليکلي دي:

"د دۀ کلام ډېر سليس، روان،فصيح، بليغ او د رومانيت په رنګ کښې ډوب دے او له دۀ سره د پښتو نازکو او شائسته الفاظو بې اندازه ذخيره ده ـ"[11]

مجذوب که هر څو په شعوري توګه د غزل فني رنګ ته پاملرنه نۀ ده کړې ولې رښتيا خبره دا ده چې د دۀ په غزلونو کښې رنګارنګ تشبيهاتو،استعاراتو او ښکلو ترکيبونو په لاشعوري توګه يو فطرتي ښکلا پېدا کړې ده او د ۀ د غزلونو نه دا خبره بېخي څرګنده ښکاري چې د ګڼو فني لوازماتو نه پرته ئې د شعر طلسماتي کيفيت په ښکلو تشبيهاتو کښې پټ کړے دے ـ لکه دا شعرونه ئې ولولئ:

په سپين مخ په خوږو شونډو دې خط راغلو
کـــه مچـــۍ تـــورې ګبـــين د پاســـه شـــوري
دا دې دُر لـــه خـــورو زلفـــو لانـــدې برېښـــي
کـــه خونـــد اخلـــي جنتـــي طـــوبٰی د ســـوري[12]

د مجذوب غزل د خپلې درونـد والـې لهجې د موزونـو ټکيـو د جوړښت او د بې ساخته قافيو او رديفونو له کبله ډېر په اسانه پېژندے شي ولې چې دۀ ته په خپلې ژبې او لهجې څۀ بې شانه دسترس حاصل دے ـ د دۀ لهجه او د غزل رِدهم په لوستونکيو يو خپل خاص اثر او کيفيت حاوي کوي او دا د صاحبِ طرز شاعر اهمه خوبي هم ده، ځکه د مجتبٰی حسېن د وېنا ترمخه "کـه چرتـه د يـوۀ شـاعر لهجـه پـوره او مکملـه وي، نـو هغـه خپـل لوستونکي په دې خبره مجبوروي چې هم په هغه رنګ انداز او رِدهم کښې دې ولوسته شي، په کوم ردهم کښې چې د شعر تخليق ممکن شوے وي ـ"[13] د مجذوب د فن څخه دا خبره ښکاره ده چې دے زياتره د خپلې لهجې د ځانګړتياؤ سره سره دخپل مخصوص ردهم په بنياد لوستونکي د خپلو غزلونو په لوستلو مجبوروي او دا د دۀ يوه فني حربه هم ده ، کومه چې دۀ زياتره پکارولې ده او په لاندينو شعرونو کښې ئې دغه خوبي ښکاره ليدۀ شي لکه وائي:

د سروې قـد سـپينې خـولګۍ تـه کسـه
څـــومره پـــه لـــوړه دا اوبـــه وختـــې[14]

ګرانــه چــې کســے د لېمــو مــې شــولې
ګرانــه خــو دا ده چــې لېمــهٔ وګــورم[15]

کســي زمــا کــه پســې ولــوېږي نــو ګــرم خــو نــهٔ دي
تماشــه بــين پــه لــوړه کســي چــې مېــدان تــه کســي[16]

مجذوب هسې خو خپـل نـوم د نظـم پـه دنيـا کښـې ښـهٔ ځلولے دے ، خـو پـه دې خبره کښې هم شک نشته چې مجذوب د غـزل د لطافـت، نزاکـت او د بې شمېره خوبيو نـه پرتـه د تغزل روح هم په خپلو شعرونو کښې په ښکلي ډول ځاے کړے دے ځکه ئې شعرونه زيـاتره د متلونو غونډې د زړونو تل ته پرېوځي۔ اسير منګل په ځاے ليکلي دي:

"د ښاغلي مجذوب د غزل رنګ هم زړهٔ ته ډېر زيات اپيل کوي او دے چې د غزل په ژبه مونږ سره په کومه طريقه مخاطب کېږي هغه د ستائيلو وړ دے ۔ حقيقت دا دے چې دے نهٔ يـواځې د غـزل د نزاکتونـو نـه خبر دے بلکې د مينې نه ډک زړهٔ هم لري او په دې پوهېږي چې تغزل څهٔ ته وائي۔ "[17]

که په غـور سره وکتے شي د مجذوب غزل چې څومره د لوستونکيو زړونو تـه بې ساخته اپيل کوي، د هغې بنيـادي وجه دا ده چې د دهٔ پـه غزلونو کښې د تغزل خوبي ډېره جوته ده او ښکاره خبره ده چې تغزل د غـزل روح ګڼلے شي ۔د مجذوب ډېر شعرونه داسې شته چې د دهٔ په تغزل باندې دلالت کوي، ولې د اختصار له کبله د دهٔ په دوو شعرونو باندې اکتفا کېږي چې :

شــانې تــه ګــوره او کــه نــهٔ وي آئينــې تــه ګــوره
لــه هر ويښــتهٔ دې څومره زړونــه راښــوئېږي د چــا[18]

پــوي دي د مجـذوب پـه زړګـي پـوي دي ښـهٔ
ښــکلي کــه وليــان نــهٔ دي څــهٔ کــم نــهٔ دي[19]

مجذوب د پښتو د غزل هغه ستورے دے چې رڼا بـه ئې د ادب پـه اسمان تـر زمـانو زمانو خوره وي۔ د دهٔ په غزلونو کښې د موضوعاتو نـه پرتـه ټـول فني لوازمـات لکه تشبيهـ ګانې، استعارې، علامتونـه، ترکيبونـه او د دې سره سره سادګي، رعنائي او فني شوخي

ځاے په ځاے په نظر راځي او مونږ په دې نتيجه رسېږو چې مجذوب د غزل د فني ژورتيا څخه ښۀ خبر دے.

د مجذوب په ژوند باندې که د دۀ د فن هغومره قدر ونۀ شو کوم چې پکار وۀ، ولې مجذوب ته د دې خبرې ادراک شته او دغې حقيقت ته ئې ډېر په ښکلي انداز څۀ داسې اشاره کړې ده چې:

زمانــــه قـــدر د چـــا څـــۀ پېژنـــي
هر ځاے يوسف په بها کم وختو[20]

# حوالې

[1]. Majzob, Abdu Rahim, da Majzob Kulyat, Pekhawar, Danish Ketab Ploranzai, p.129
[2] . Ibid,p.343
[3]. Sayal, Khwaja Muhammad, Abdul Hamid Baba, Pekhawar, Azim Publishing House, 1985, p.122
[4] . Majzoob, Abdu Rahim, da Majzob Kylyat, p.375
[5] . Ibid,p.365
[6] . Ibid,p. 363
[7] . Muhib Wazir,Dr, da Majzob da Shayerai Tanqede Mutala, Pekhwar, Bacha Khan Research Centre, 2009, p.115
[8]. Majzob, Abdu Rahim, da Majzob Kulyat, p.35
[9] . Ibid, p.355
[10] . Ibid, p.356
[11]. Asad Qurashi, Soaile Store, Pekhawar, Hamid Printing Press, p.161
[12]. Majzob, Abdu Rahmim, da Majzob Kulyat, p. 331
[13]. Mujtaba Hussain, Tahzib wo Tahrer,Karachi, Maktaba Afkar, 1920, p.103
[14] . Majzob, Abdu Rahim, da Majzob, Kulyat, p.341
[15] . Ibid, p. 335
[16] . Ibid, p.403
[17] . Aseer Mangal, Soaile Rangona, Pekhawar, Danish Khparandoi Tolana, 2009, p.127
[18]. Majzob, Abdu Rahim, da Majzob Kulyat, p. 333
[19] . Ibid, p. 323
[20] . Ibid, p.378